هفته نامه
اتحاد اسلامی
بیانگرآرمان اتحاد اسلامي افغانستان
شماره مسلسل « ۲۴۹ » سال هفتم شماره « ۵۰ » دوشنبه « ۲۶ » حوت ۱۳۷۰ هـ ق مطابق « ۱۳ » شعبان ۱۴۱۲ هـ ق ومطابق « ۱۶ » مارچ ۱۹۹۲ میلادي

PROPERTY OF ACKU

پوهاند سیاف دارکانو شورى ته دخپلى وینا په ترح کی :

ماله خدای « ج » سره عهدکړی چې ترڅو ژوندی یم وارداتي اوبهرني پلانونه به هیڅوك راڅخه په افغانستان کښې عملي نکړي

دالبنیان خبری اژانس :
غواړم ددې جهاد اتلو قومندانانو اومجاهدینو ته په ګوته کړم چې دراتلونکې موقتې دورې دحکومت لپاره چې دبنین سیوان لخوا کوم خلك په نظرکښې نیول شوي هغوې ټول هغه عناصر دي چې دکمونستانو په ځای له تاسي څخه تشویش لري اوکله چې دوې قدرت ته ورسیږي نو په لمړی ګام کي به همداتاسي ختموي ، څکه تاسو دقدرت مراکز او دهواك څښتنان یاست .
پورتنی مطلب دافغانستان داسلامی اتحاد امیر پوهاند سیاف داتحاد اسلامی دارکانو شوری ته دخپلې مفصلې وینا په ترځ کې ترګند کړېدی .
ده وویل : زه دیو امانت په څیر دافغانستان دقضیې ټولو ذیدخلو خواووته دا پیغام رسوم چې دوې دې ددې جهاد په خواکې ودریږي اوکه داکارنی په وس کې پوره نه وي نو لږ تر لږه دې دهغه په وړاندې نه ختنه کیږي څکه څمونږ جهاد اوس دیوې دوه لاریزې پرسر ولاړدی چې پابه الله تعالی خوشحاله وو اویابه هم بوش !!
داتحاد اسلامی مشر دجهادی مشرتابه ترمینځ دوحدت دنشتوالی په هکله وویل : زه دیو تریخ حقیقت په توګه داخبره منم چې څمونږ اختلاف ګناه اوددې ستونزو ددوام له اسبابو څخه یوعامل دی ، ولې اوس ددې وخت رارسیدلی دی چې څمونږ ولس باید دا درك کړی وي چې څوك څان غواړي اوڅوك اسلام ؟څوك خپل تنظیم غواړي اوڅوك افغانستان ؟ څه ډول اتحاد دې وشي ؟کوم اصول اواساسات دې په نظرکښې ونیول شي؟ څکه دایو شرعی اصل دی چې په حرامو وحدت حرام دی اوپه باطل اتفاق باطل دی .
ده زیاته کړه : موږ له درې کالو راهیسې دوحدت لپاره مختلف اومخلصانه وړ اندیزونه کړي اوټولوته مودا واضحه کړې چې که له موږسره پدې تعهدوشي چې غیر اسلامی حل به نه منو اودمجاهدینو داسلامی حکومت تر جوړېدو به وسله وال جهاد ته ادامه ورکوو ، نوموږپېدغه صورت کې قیادت ته کاندید نه یو ، ولې په تأسف سره باید ووایم چې تر اوسه پورې موفق شوي نه یو .مادمحترمو علماو مجلس ته په شفاهي اولیکلی ډول دا واك ورکړی چې که تاسو دنورو ورونو سره دوحدت په رابطه هرډول شرعی پریکړه وکړئ نو موږپېی منلوته چمتو او هر ډول همکارۍ ته حاضر یو . اودافغانستان دراتلونکی اسلامی نظام په هکله ستاسو فیصله منو داتحاد اسلامی مشردخپلو خبرو په بل برخه کې وویل : کله چې سیوان دملګروملتونو دنماینده په صفت راغی نو ما ورسره ولیدل خو کله چې دده ریم دحل لپاره دحکم اوواکدار په حیث راغی نو ماورسره لیدل مناسب ونه ګڼل څکه زما اسلام اوغیرت ماته دا اجازه نه ورکوي چې زه یوغیر مسلمان عنصر دحکم په توګه ومنم اود افغان مجاهد ولس دسرنوشت دټاکنې لپاره هغه ته دخپل تنظیم دافرادو لست ورکړم چې څمونږ لپاره شوری جوړه کړي .
مادخپل خدای « ج » سره داعهد کړی چې بهرني او وارداتي اودهغه تر شا قوتونه به راڅخه دغه پلان څما په ژوند په افغانستان کې پلی اوعملي نکړي ، ماله خدای سره عهد اوژمنه
ح ع

کندك خدمات رژيم در علاقداري فيض آباد ولايت جوزجان به تصرف مجاهدين درآمد

يك منبع جهادي به حواله ميديا خبر ميدهد كه كندك خدمات رژيم درعلاقه داري فيض آباد ولسوالي آقچه ولايت جوزجان بتاريخ ۱۳ مارج بدست مجاهدين فتح شد .
گزارش مشعراست : طي فتح اين مركز مستحكم نظامي رژيم مزدور درولسوالي آقچه يك عراده تانك ، يك بطريه دافع هوا (۷۰۰) ميل سلاح خفيف ويك عراده موتر جيپ به دست مجاهدين غنيمت گرفته شده است .

محترم انجنير احمدشاه به تنظيم جمعيت اسلامي نه پيوسته است

ديروز مورخ ۲۵ حوت كاركنان محترم جريده شهادت خبري را مبني بر پيوستن انجنير احمدشاه به تنظيم جمعيت اسلامي افغانستان به نشر رسانده بودند .
براي توضيح اين مطلب بايد گفت كه انجنير احمدشاه وهر ركن از اركان تنظيم اتحاد درفكرشخص خود نه بلكه در فكر همبستگي ملت ووحدت امت هستند--- وي در اجتماعيكه بمناسبت۲۴ حوت درچمكني صورت گرفته بود روي وحدت وهمبستگي مجاهدين وپيرامون تنازلات تنظيم اتحاد بخاطر وحدت مجاهدين صحبت كرده بود - مگر از صحبت وي چنين تعبير كرده اند كه گويا وي پيوستن خود رابه جمعيت اعلان كرده واين تعبير خلاف واقع وخلاف آنچه است كه انجنير احمدشاه ازگفته هاي خود اراده كرده است .

اگر مابه وعده های خداوند ایمان داشته باشیم باید ازامریکا وامثال آن خوف وهراس نداشته باشیم
پوهاند « سياف »

همه دنيا عليه جهاد ما دست به دست داده وتوطنه مي چينند تا اين جهاد را ختم نمايد مولوي محمدمير

اگر ما متحد باشيم ميتوانيم به هر گوشه وكنار جهان روشني تابناك اسلام را برسانيم . غلام محمد صفي

مازخداوند متعال التجاميكنيم كه ارمانهاي شهداي مارا به اقامه حكومت اسلامي درافغانستان براورده سازد . محمد ياسر

درببن صحابه كرام جواناني بودند كه بخاطر اعلاي كلمة الله ودعوت اسلامي خون ريختند ولي از راه برحق شان منصرف نشدند قيام الدين كشاف

روز شنبه مطابق ۱۱ ماه مبارك رمضان به مناسبت تجليل ازفتح مكه و افتتاح مركزدانشجويان مسلمان محفل پرشكوهي در دفترمركزي دانشجويان تدويريافته بود .
محفل حوالي ساعت دو بعد ازظهر بعدازتلاوت آيت چند ازكلام الله مجيد آغاز، متعاقباًمولوي فضل الهادي شينواري بيانيه افتتاحيه، شانرا ايراد كردند .
استادسياف امير اتحاد اسلامي افغانستان طي بيانيه، ارزشمند وعالمانه، شان گفتند : پيغمبر صلي الله عليه وسلم فرموده است:جواد ترين مردم بعد ازمن دوطبقه است،يكي آنكه علم را آموخت وبه مردم ياد داد . دوم آنكس كه به جان ونفس خود در راه خداوند (ج) جود وسخاوت كند .
استاد سياف افزودند : اين مركز كه فعلاً در افتتاح آن اشتراك ورزيده ايد خداوند آنرا مركز جود وسخا گرداند رسول كريم صلي الله عليه وسلم درمورد آهل علم فرموده كه آنها بعد ازمن جواد ترين مردم اند . در اين مركز علم ومعرفت ودانش فراگرفته ميشود ، روحيه جهاد به مردم تلقين ميشود و بالآخره اين مركز مجاهدين با عقيده وبا دانش خواهد بود ، اميدواريم كه اين مركز توقع مارا درمورد تربيه فرزندان مجاهدين ومهاجرين برآورده سازد .
امير اتحاد اسلامي افغانستان در ادامه بيانيه شان دو آيه از سوره، فتح را تلاوت نمودند و گفتند كه اين ايات مباركه بايد سبب اطمينان دلهاي شما وهمه كساني شود كه تصميم استمرار جهاد را تا قيام حكومت اسلامي درافغانستان دارند .
استاد سياف گفتند : كسانيكه آنهارا تهديد ها ي امريكا ، سازمان ملل وساير قدرتهاي مادي دنيا احاطه وخوف زده كرده ، توصيه ميكنم كه دراين دو آيه، مباركه، تلاوت شده فكر كنند و بايد بدانند كه لشكرهاي آسمان و زمين به دست آمريكا ، انگليس ، فرانسه ، هند و امثال آنها نيست بلكه لشكرهاي آسمان وزمين بدست خداوند لايزال است . اگرما به وعده هاي خداوند ايمان صحيح داشته باشيم وبنام خداوند داخل ميدان جهاد شده باشيم ،
ص ۳

كمونيست نجيب دڅوروڅوميلمه دی ، څكه امريكي نه دمرستي غوښتنه كوي

مولوي يونس « خالص »

دافغانستان داسلامي حزب مشر مولوي محمديونس « خالص » ويلي دي چې دكابل دكمونيست رژيم مشر اوس دڅو ورڅو ميلمه دي ، نو څكه پدې سخت براوكي امريكا نه دمرستي غوښتنه كوي اوپدې هيله دهغه چي دافغانستان په راتلونكي حكومت كي څه ونډه تر لاسه كړي .
مولوي خالص دامريكي غږ راډيو سره دمركي په ترځ كي وويل : لكه څنګه چې بې روس ته دوكه وركړي وه اوهغوي ته به يې ويل چي دافغانستان ۹۵ فيصده خلك دكمونستانو ملاتړ كوي اويوازي ۲ فيصده ددوي مخالف دي ، خوحقيقت داڅ چي دوه فيصده خلك هم دهغوي ملاتړ ته حاضر نه ژ .
داسلامي حزب مشر دګوډاګي نجيب ددي خبر په ځواب كي چي : كه مجاهدين دافغانستان واكي په لاس كسي واخلي ، نو افغانستان به دنړيوالي تروريزم او نيشه ايزو موادو مركز جوړ شي » وويل : نجيب ددي موضوعاتو په هكله دامريكي دويري اوترهي نه سوء استفاده كول غواړي .
ح ع

دهرات په ولايت كي دحق اوباطل ترمينځ نښتي

په ګوينه كي دميډيا نمايندګي ته دهرات ولايت نه رپوټ وركړشوي چي مجاهدينو دمارچ په لومړي نيټه پدغه ولايت كي داوبې پرولسوالي اوشاوخوا پوسته ياندي بريد وكړچي دهغه په نتيجه كښي درژيم دقواؤ ۸ تنه عسكر اوملېشه مړه ، (۱۱) تنه ټپيان او بوشمير كلكي پوڅي ځالي بې ويجاړي شويدي .
رپوټ زياتوي ، چي مجاهدينو پدې جګړه كي درژيم دقواؤ يوعراده ټانك ديوميل هاوان سره له مينځه وړېدي.

مجاهدينودكندهارولايت په هوائي ډګرباندې دبريد په ترځ كي ددښمن ۱۲ تنه ووژل

دميډيا خبري اژانس دخبر له مخي دكندهار ولايت دشګې دولسوالي مجاهدينو دلويديځي خوا څخه دكندهار په هوائي ډګر باندې دټانكونو اودرندو توپونو پواسطه دمارچ په لسمه نيټه بريد وكړ چي داوړدې جګړې په نتيجه كي دهوائي ډګر دلومړي امنيتي كمربند دوه سنګرونه تباه او(۱۲) تنه دڅارني عمله يې مړه اوژوبل شويدي .
دخبر له مخي مجاهدينو په دومړي
ح ع

برهمه ماست تا ازتبليغات دشمنان كه هميشه درجستجوى فرصت براى ايجاد اختلاف درصفوف مجاهدين اند ، جلوكيرى كردد پروفيسور «رباني»

بينن سيوان درحل مساله افغانستان بحيث ميانجي نه بلكه حيثيت آمررا بخود گرفته از ينرو پيشنهادات حل او مردود است
انجنير احمدشاه

يادي شهداي قيام ۲۴ حوت درهرات طي محفلي بزرگي قبل ازظهر (۱٤) مارج درمقر دفتر جمعيت اسلامي درچمكني پشاور تازه گرديد .
بگزارش خبرنگار (ميديا) درين محفل پروفيسور برهان الدين « رباني » رهبر جمعيت اسلامي افغانستان درحاليكه عده، كثيري ازعلما، ، روحانيون ، نمايندگان تنظيم هاي جهادي ، قومانداتان ، مجاهدين ، جميع غفيري ازمهاجرين حضور داشتند بيانيه، ايراد كرده وازشهداي گلگون كفن قيام خونين تاريخ شهريان هرات باقدرداني يادكردند .
پروفيسور « رباني » خاطرنشان ساختند ، لحظات پيروزي مجاهدين نزديك است و برهمه، ماست تا ازتبليغات دشمنان كه هميشه درجستجوي فرصت براي ايجاد اخلال درصفوف مجاهدين اند ، جلوگيري گردد .
پروفيسور « رباني » ضمن تاكيد بر اتحاد بين مجاهدين نسبت به تبليغات

ماليزيا له برمانه غوښتي چي دهغه هيواد په مسلمانانو باندې دې ظلم اوتيرې بند كړي

ماليزيا د برما په حكومت باندې غږكړي دي چي دهغه هيواد مسلمان اقليت باندي دي ظلم اوستم بند كړي .
پاكستان ورځپاڼې په خپلي وروستي ګڼه كښي د ماليزيا دحكومت له قوله ليكي چي دبرما حكومت دي هغو مسلمانو اقليتونو ته له تعذيب وركولو پرته خپل هيواد ته د ستنيدو اجازه وركړي كوم چي كور كهول يې پريښي اوبنګلاديش ته يې هجرت كړي دي .
ماليزيا د مارچ په لسمه نيټه د برما سفير احضار كړ اوپه مسلمان اقليت باندي يې دهغه هيواد دپوځيانو د ظلم اوزياتي په هكله خپله ژوره خپګان څرګند كړ.

دسمنګانو په ولايت كي دمجاهدينو بريالي عمليات

په پيښور كي يو جهادي خبر ځاي ميډيا ته رپوټ وركړي چي مجاهدينو دمارچ په ۱۳ نيټه دكابل - حيرتان اوكابل مزارپه لويه لاره دخلم ستراتيژيكه ولسوالي دباغ «جهان نما » دري پوستي ، (۵۹) نمبر كندك اودسراي په نوم تپولي پوستي دتاشقرغان تنګي كي فتح كړي اوسخته مرګ ژوبله يې كړېده .
رپوټ زياتوي مجاهدينو پدي بريالي بريدكي چي دشپي لخوا دخلم ولسوالي په مربوطاتو باندې پيل، شو ، دكابل رژيم د «خاد » عسكري اوملېشه
ح ع

مجاهدينو دلوګر په ولايت كي د كمونيست رژيم ۲۰ تنه پلويان ووژل

په پيښوركي دمجاهدينو يوخبر ځاي (ميډيا) ته رپوټ وركړي چي دكابل رژيم قواؤ دمارچ په ۱۰ نيټه ددغه ولايت دكلنګار دولسوالي پرېازار او شاوخوا كليو بريد وكړ چي دمجاهدينو لخوا دسخت مقاومت سره مخامخ شوي دي .
دريوټ مطابق دمجاهدينو دمتقابله ډزو په اثر درژيم دقواو څخه ۲۰ تنه عسكر اوصاحب منصبان وژل شوي بوشمير ټپيان او دوه عرادې ټانكونه داورلمبه شويدي .
په رپوټ كي دمجاهدينو دتلفاتو په هكله څه ندي ويل شوي اوجګړه ددواړو خواؤ ترمينځ په سختۍ سره روانه ده .

آيت الله تقدسي سخنگوي شوراي ائتلاف تقاضاي بينن سيوان رارد نمود

طبق گزارش دفترشوراي ائتلاف (بينن سيوان) فرستاده، خاص سرمنشي ملل متحد بعد ازظهر ديروز (۱۳) مارج با آيت الله نور احمد تقدسي سخنگوي شوراي ائتلاف درمقر آن شورا درپشاور ملاقات كرد .
طي اين ملاقات ازآيت الله تقدسي بعمل آمد تالست (۱۵۰) نفري راكه ازسوي آن شورا درجلسه شوراي مجوزه، ملل متحد اشتراك نمايد ارائه دهد .
بقرارگزارش آيت الله تقدسي همكاري تنظيم مربوطه راباشوراي كه نماينده، رژيم كابل درآن شركت داشته رد كرده افزود : اگرنجيب ويافردي ازحزب وطن كه قاتل يكنيم مليون نفر ازمسلمانان افغانستان هستند دراجلاس اشتراك داشته باشد ، تلاش سازمان ملل دوين مورد بي ثمر خواهد بود .
تقدسي ضمن تأكيد براتفاق نظر مجاهدين درهرگونه جلسه ومذاكرات اظهار داشت كه به نجيب وياران وي درآينده، افغانستان هيچگونه حقي قابل نيست .

هفته نامه

اتحاد اسلامی

بیانگر آرمان اتحاد اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز : اتحاد اسلامی افغانستان
سال تاسیس : عقرب ــ ۱۳٦٤
ناشر : بخش فرهنگی ریاست دعوت وارشاد

سرمقاله

رمضان ماه فتوحات وبرکات

رمضان یاماه نزول قرآن مجید که خداوند «ج» درآن برکات وفیوضات زیادي رانادي را نهاده است . این ماه خجسته براي بندگان صالح ومتقیان که قلوب شانرا معرفت انوار الهي روشن گردانیده است ، ماه عبادت ومغفرت است .

ازابوهریرة رضي الله عنه روایت شده که پیامبر ﷺ فرمود : کسیکه رمضان را ازروي ایمان واخلاص روزه گیرد گناه گذشته اش آمرزیده میشود . «متفق علیه»

درین ماه پر فیض خداوند نعمت هاي بیشماري رابر بندگان ارزاني میدارد . قرآن این کتاب سماوي وهدایت نیز درین ماه برپیامبر ﷺ نازل شده است وشب لیلة القدر نیز درین ماه مبارك قرار دارد .

بلي ! ماه مبارك که ماه تقوي وعبادت است وشخصیت مسلمان درین ماه بیشتر متوجه بعد عبادي خود گردیده وبیاراز ونیازي بیشتري درپیشگاه خداوند مي پردازد . مسلمانان درین ماه به ختم هاي قرآن مجید درهمه جاپرداخته وحلقات تدریس این کتاب منزل خداوندي آغازگردیده است ، حتي مردمان عاصي وگنهکارنیزدرین ماه بدربار خداوند رواورده طلب مغفرت میدارند .

رمضان ماه جهاد وفتوحات نیزمي باشد ودرسال دوم هجرت اولین جنگ مسلحانه بین سپاه اسلام ومشرکین بوقوع پیوست و یك آزمایش وامتحان بزرگ براي سپاه اسلام فرار رسید . پیامبر ﷺ خبریافت که سپاه عظیمي ازمکه بخاطر نجات کاروان تجارتي که ازشام بسوي مکه معظمه اماده حرکت گردیده است للذا با مسلمانان مشوره نمود که همه مهاجرین وانصار آماده گي خودرا براي جنگ با سپاه قریش بگیرند سرانجام در محاذ بدر بین دوسپاه جنگ آغازمي یابد وخداوند «ج» درین باره چنین مي فرماید : وچون خدا یکي ازدو دسته را (کاروان تجارت ویا سپاه قریش را) بشما وعده میدهد شما دوست دارید که دسته بي شکوه و شوکت ازآن شما باشد درصورتیکه خداوند مي خواهد با کلماتش حق را پیروزسازد ودم کافران را ببرد .

این جنگ سرنوشت سازبود وخداوند «ج» بافرستادن فرشته ها ازمسلمانان که تعداد شان سه صدو سیزده نفربود حمایت نموده وفتح بزرگ بر لشکر هزارنفري قریش نصیب شان گرداند بعضي سران وصنادید قریش چون ابوجهل ، عتبه وغیره کشته شدند وغنایم واسراي زیادي نصیب سپاه اسلام گردید .

همچنان درسال هشتم هجرت درماه دهم رمضان المبارك رمضان فتح مکه واقع شد بني بکر وبني خزاعه که که هنگام قرار داد صلح حدیبیه یکي درپیمان مسلمانان ودیگري به پیمان قریش قرار گرفته بودند .

یکتن ازقبیله بني خزاعه بوسیله بني بکر کشته شد وبدین پیمان صلح حدیبیه که مشرکین قریش باپیامبر ﷺ بسته بودند نقض گردید وراه دخول مسلمانان رادرمکه بازساخت پیامبر ﷺ باده هزار سپاه خود بطرف مکه روان گردید . وسپاه اسلام ازچهارطرف وارد مکه شدند بدون آنکه دربرابر خود مانعي را احساس بدارند .

آنحضرت ﷺ وارد کعبه گردید وسه صدو شصت بت که درآنجا جابجا شده بود سرنگون ساخت پیامبر ﷺ بمردم قریش گفت «اي گروه قریش چه فکر مي کنید که من درباره شما چه خواهم کرد ؟» گفتند نیکي برادري بزرگواري . آنحضرت ﷺ گفت «بروید که آزادید» مردم دسته دسته به اسلا م مشرف مي شدند . ابوسفیان که از اشراف قریش بود وهمچنان زن آن هنده که در دشمني با پیامبر ﷺ از هیچ گونه کینه توزي دریغ نمي ورزید به اسلام مشرف شدند . این پیروزي عظیم سپاه اسلام درین ماه میمون واقع گردید للذا ماه رمضان حقیقتاً ماه جهاد ومجاهدین است . وخداوند به مجاهد مردان افغانستان نیز توفیق عنایت میفرماید که رکود فعلي اینکه در جهاد مشاهده میشود شکسته وازبرکات این ماه درضربه زدن به دشمن ملحد ونابکاراستفاده نمایند .

برادران مجاهد ! جهاد افغانستان بخاطر اعلاي کلمة الله آغازیافته بود وخداوند حامي ومددگارقافله جهاد ومجاهدین بود که در طول ۱٤ سال از وجب وجب خاك افغانستان دفاع کردند وزمینه اقامه یك حکومت اسلامي راکه خواست ملت مؤمن ما است وبخاطر دست یابي برآن بیش ازشانزده لك فرزندان خودرا قرباني دادند مساعد ساختند . اما سازش هاي بین المللي سران کفر ، تغیرسیاست وپالیسي دوستان جهاد ، لغزش ولرزش پاهاي عناصر سست عقیده وبي اراده وتلاش شیطان بزرگ (امریکا) بخاطردست داشتن وتعین درسرنوشت مستقبل افغانستان وده ها عوامل دیگر سبب شده است که در روحیه جهاد تااندازه رکود مشاهده شود اما این وضع در عزم واراده مجاهدین مخلص کدام تأثیري وارد نکرده است . مشکل آنست که چطور زمینه یکجاشدن مجاهدین راستین ووفادار به آرمان این جهاد برابر شده میتواند . اگر ازحلقه هاي تنگ ومحدود حفظ نتایج وثمرات گرانبهاي این جهاد عظیم دریك دایره وسیع که آنرا اسلام ترسیم نموده است داخل شویم . آنوقت قادرخواهیم شد که فتنه ها ودسایس کفر جهان واستکبار را درهم شکنیم .

برادران مجاهد ! بیائید تا درین ماه جهاد وفتوحات یك باردیگر میثاق وتعهد خودرا باخداوند «ج» تجدید نموده وبا اخلاص کامل ومتانت جهادي یك صف واحد ویك استراتیژي واحد جهادي را برگزینیم ودرین لحظات سرنوشت ساز جهاد که مکرو فریب ومؤامره همه دشمنان خدا متوجه جهاد ماست متحدانه دربرابر آنها عمل نمائیم . **انشاء الله که فتح وپیروزي را خداوند نصیب ما خواهد ساخت .**

روژه دروحاني تکامل ستره وسیله

دسوره بقره په ۱۸۳ آیت کښی الله تعالی فرمایی : « ای مؤمنانوپرتاسی روژه فرض کړای شوی ده لکه چی له تاسی نه مخکښی خلکوباندی فرض کړای شوی وه . ترڅو چی تاسی متقیان شئ » .

په دی الهی ارشاد کښی په ډاګه بښودله شوی ده چی روژه یوازی په دی امت باندی نده فرض کړای شوی بلکی مخکښی په نورو امتونو باندی هم فرض کړای شوی وه . په آسمانی شریعتونوکښی له ابتداء نه دادنفس دروزنی اوروحانی تکامل یو خاص ریاضت اوبیوه ښه زړه پوری وسیله ده .

څنګه چی دشریعت اساس پرتقوی ایښودل شوی دی ، تقوی پر جذباتو ، احساساتو اوخواهشاتوباندی دتسلط میندلو له قوت اوصلاحیت نه پیداکیږي اوددغه قوت اواستعداد روزنه تریل هرڅه زیات دروژی په وسیله کیږي . په کال کښی یوه میاشت روژه ګواکی دتقوی دروزنی اودنفس دتزکیی هغه کورس دی چی انسان باید په ټول کال کښی هغه درسونه هیرنکړي . له یوی خوانه په خپله روژتی دلوږی تندی په ګاللو اودنفسی غوښتنو په کنترولولو دیو باعزمه ، متین اوباثباته انسان په صفت په ژوند کښی له هری ستونزی سره مقابله کولای شی په تیره بیاکله چی دخدای په لاره کښی تکلیفونه اوکړاوونه وربان‌دی رالحې ، له لوږی تندی سره مخامخ کیږي نو په دی ټولو سختیو باندی صابروی اوله بلی خوا روژتی دهغو بیوزلو انسانانو ستونزوته متوجه کیږي چی هغوی له روژی پرته په نورو وختونوکښی هم ورسره مخامخ دی ، تواحساس رالږزیږي ، دهغو حالت ته متوجه کیږي اوداسلامی اخوت دغوښتنو اوایجاباتو له مخی دمرستی لاس ورغځوی .

دغرب دماده پرستانه ژوند دفلسفی تر تاثیر لاندی راغلی کسان په روژه باندی انتقاد کوی چی په دی سره دانسان دکار صلاحیت اوقوت کمیږی اوپه نتیجه کښی فرد اوټولني دواړوته زیان رسیږی خودغه پوچ مغزه انتقاد کوونکی دوه اساسي حقیقتونه له نظره غورځوي : یوداچی ددوی په نظرکښی چی دانسان کوم قدر اوقیمت دی ، هغه یی دمادی وجود قیمت دی ددوی په نظر کښی دهغه دروحانی وجود څه قدر اوقیمت نشته . ددوی په نزد لکه څنګه چی یو چاغ غوائی ډیره کلیه کولای شی همدارنګه یو چاغ اوپه ګیډه موړ انسان زیات کار کولای شی . دوی په دی ندی خبر چی که انسان یوازی دغوښی اوپوستکی مجموعه وی نو بیاپه ریښتیاسره ددوی په انتقاد کښی څه وزن شته خوکه دامنی چی په انسان کښی دروح په نوم هم یوشی شته نوباید ویوښتل شی چی دهغه ددوی اوتقویی له پاره هم څه غذا اوتدبیرضروروری دی اوکښه ؟ که ضروروری وی نوآیاهمدغه خوندور اومقوی خواړه چی زمونږ جسم وربانډی وده مومی دهغه له پاره هم کافی دی اوکه دهغه له پاره دکومی بلی غذا اوتدبیر ضرورت دی؟

ددغی پوښتنی ځواب اسلام دا ورکوی چی په انسان کښی دروح جوهر ځمکنی نه بلکی اسمانی اوخدائی دی له دی امله دهغه غذا له دی ځمکی څخه نه بلکی له خدای سره داړیکی اوپیوستون اودهغه دکلام اوالهام څخه تر لاسه کیدای شی اوله خدای سره اړیکه هغه وخت ډیره نژدی اوډیره قوی کیږي چی دجسم له غوښتنو ، جذباتو ، تمایلاتو اوخواهشاتو څخه آزاد وی ، ترڅو پوری چی روح دجسم په تیښتو زولنو کښی بند ی وی ترهغه وختهپوری په هغی لوړی فضاکښی الوتنی نشی کولای چی په فطري لحاظ دهغه دالوتلو اصلی مدار دی اوپه همدی لوړی الوتنی سره یی هغه شاهینی کارنامی رابرسیره کیږي چی دهغه په فطرت کښی په ودیعت ایښودل شوی دي . روژه روح ته ددغی ازادی ورکولو ترټولو زیاته اغیزناکه وسیله ده .

په دی سره چی دانسان دنفس کومه روزنه کیږي دهغی ترټولو زیات ځرګند ارخ دادی چی په روح باندی دخواهشاتو غلبه کسبیږي . دانسان اراده اوهوډ تقویه کیږي اوداصلاحیت اواستعداد په کښی پیداکیږي چی ددی پرځای چی دیو فرمانبردار غلام غوندی لاس ترلی پخپلو خواهشاتو پسی لاړشی دعزم اوایمان لرونکی انسان په صفت خپل خواهشات او جذبات دخپل خدای اودهغه داحکامو تابع کوي .

له دي نه داحقیقت هم په ډاګه کیږي چی دانسان دقوت اوطاقت اصلی خزانه دهغه په جسم کښي نه بلکي دهغه په زړه اوروح کښی ده . که زړه کمزوری اوروحیه مړاوی وي نو دناز اونعمت ، هوسایني اوراحت پاځیو کښي غرق اجسام هم داسی وی لکه دلرګیو هغه ښایسته ستنی چی له پاسه نقاشی شوي او دروږ شوي وي اومینځ یي ورو اوګوګ . قرآن دسوره المنافقون په ٤ آیت کښي ورڅخه داسی تعبیر کړی دی :

« ګواکی دوي دیو الوتونه تکیه کړای شوي دلرګی ستني دي اوګومان کوي هره بلا چی نازلیږي پر همدوي به نازلیږي » یعني دنړۍ په ګوټ کښي چی کوم خطر راولاړیږي ، ددوي زړونه ډر زیږي چی اروسروداتشدر زمونږ په درمند باندي راغوروزیدونکی دی . ددي په عکس دکومو خلکو چی روح بیدار ، زړه مطمئن اوحوصلی لوړی وي هغو که داوریښو په ډوډۍ ګوزاره کوي هم دحیدر کرار « رض » دمهوکار نامي ځرګندوي ، قرآن همدغه حقیقت ته په ګوټي نیولو فرمائي « ډیر واړه ټولګی دي چی دالله په حکم‌سره پرلویولښکروباندي برلاسي شول » .

دویم حقیقت چی دغه ماده پرستان ورڅخه سترګی پټوي دادي چی دیوشی حقیقی قدر او قیمت دهغه له سلاسی اثر اتو اونتایجو څخه نه معلومیږي بلکي له هغه دایمی اثر څخه معلومیږي چی په ژوند باندی یي کوي یایي هیله کیږي ، په دي شرط چی په صحیح ډول راخپلـه

ص۳

په مسلمانانوباندي دنړیوالو کفري ځواکونو نادودي اوداسلامي هیوادونودمشرانو چوپتیا

محمد داؤد بهار

که ددي عصر د مسلمانانو میراته له پخوانیو مسلمانانو سره پرتله کړو ویه ګورو چي ددي وخت اوزمان مسلمانان د تیرو پیړیو له مسلمانانوند نفوسو په لحاظ زیات اود اقتصادي ژوند په لحاظ ښه شویدي ، مګر د عقیدي په لحاظ نسبتاً کمزوري او وروسته پاتي ښکاري چه همدا د عقیدي کمزوري په حقیقت کښي د اوسنیو مسلمانانو په میراني ، فتوحاتو ، اوبریالیتوبونو منفي اثر اچولي چي نشي کولي د پخوانیو مسلمانانو په څیر خپل تاریخي رسالت څنګه چه ورته لازمه او ضروري ده ژوندي کړي او یوځل بیا د نړۍ رهبري په خپلو لاسونو کي ونیسي .

له ټولونه د افسوس خبره داده چي اوس په ډیرو اسلامي هیوادونوکي ، سیاسي ، اقتصادي ، اجتماعي ، اونظامي کارونه هم د بیګلاګګرو لخوا کنټرول اورهبري کیږي چي په حقیقت کي ددي وخت د مسلمانانو اوسني ذلت هم له همدي ځایه پیداشوي اودووځو په تیریدو سره بي اسلامي هیوادونه د عزت په ځاي له ذلت سره مخامخ کړي دي اوکه په همدي ترتیب د اسلامي هیوادونو په داخلي اوخارجي چاروکي د بیګلاګګرو مداخلي اولاس وهني جاري وي نوبي له کوم شکه به د اسلامي هیوادونو مستقبل لدي نه هم بدتروي .

هوا اسلامي هیوادونو هلته له اوسنیو ذلتونو نه خلاصیدلي شي چي په خپلو مینځوکي په عملي توګه وحدت وکړي اوخپله عقیده پدي اصل سره قوي کړي چي دعزت اوذلت رسونکي الله (ج) دي نه ددي عصر اوزمان طاغوتي قدرتونه چي اسلامي نړي ته په کوم خیر یا شر ورسوي او ددي اصل(د اسلامي عقیدي) په ټینګ کي د الحادي صفونو په وړاندي باید داسي قوي اسلامي صف جوړکړي چي د ضرورت په وخت کي خپل مقابل لوري ته چي هغه الحادي ځواکونه دي دخپلو نیکونو په شان دعبرت تاریخي درسونه ورکړي اود نړۍ مسلمانان د ښکیلاګګرو له ظالمانه منګلونه خلاص کړي ، نه داچي لکه د اوس په شان اسلامي هیوادونه دالحادي قوتونو مرستوته خولي وازي کړي اوخپل ځانونه په خپلو عقیدوي غلیمانو وساتي اود نړۍ پرمخ هرڅه چي د مسلمانانو اودهغوي د مقدساتو پرضد دکفر اوالحاد لخوا کیږي د اسلامي هیوادونو مشران پري خپل غوږونه کاڼه اوسترګي وړباندي ړندي کړي .

پرون مو ولیدل چي په چین کي (۵۰) مسجدونه د مسلمانانو پرمخ دچین کمونیست دولت وتړل او هلته ئي د تبت مسلمانان یوازي ددي لپاره چي ازادي ئي غوښته اوخپلو اسلامي عقایدوته ئي احترام درلود شهیدان کړل ، خو اي مسلمانه وروره ! تا اوما دهغو مظلومومسلمانانو په حال له خپلو پاکو سترګو څوڅاڅکي اوښکي هم توئي نکړي اوته موږهغوي په زخمونوباندي د ملهم پټي کینښودي اونه موله هغوي سره ځانونه په غم اوښادي کي شریکان کړل ، داخوموونه کړل بلکه د هغوي زړه دردوونکي حال موڅنګه چي لازم ؤ هغه شان د نړیوالو غوږونوته هم ونه رسوو اوهغه دچا خبره چي داپي (پردي غم له واورو سړودي) حقیقت لري اوهغه ځکه چي موږ ته د تبت د مسلمانانو غمونه هم له واوروونه دومره ساړه وه چي د نړۍ پرمخ پر اسلامي

هیواد هم دهغوي (د تبتي مسلمانانو) د حقوقو په هکله د چین له کمونیستي دولت نه ددي پوښتنه هم ونکړه چي ولي ئي بي ګناه مسلمانان په تبت کي شهیدان کړل !

همداشان ګوروچي په الجزایرکي مسلمانانو انتخابات ګټلي وو ، خوداچي په اسلامي هیوادونو کي دواقعي مسلمانانو قدرت ته رسیدل د الحادي نړي لپاره د سترګو د اغزیو بیلګه لري نوځکه په هغه هیواد والجزائر کي د غربیانو د مداخلو او دستوراتو په اساس انتخابات لغو شول اوپه هغه هیواد کي نظامیانو مارشل لا اعلان کړه او پدي ترتیب ئي د اسلامي جبهي د مشرانو په وړاندي خنډونه راپیداکړل ، خوله ټولو لا د حیرانتیا خبره داده چي ئن نوپه الجزائرکي د اسلامي جبهي تنظیم غیرقانوني اعلان شوي اوله (۱٤۰۰۰) زرونه زیات دهغه هیواد د اسلامي نهضت وفاداره غړي تبول شوي هم دي خود د نوري اسلامي نړي مشران د الجزایرحالاتو تنداري کوي . ددي جرئت نلري چي په الجزائر کي حق ته حق ووائي اوباطل ته باطل ترڅوپه هغه هیواد کي ناارامه فضا ارامه شي اوقدرت د مسلمانانو په لاس ورکړي .

د کشمیر حالات هم د اسلامي نړي لپاره دعبرت درسونه دي اوهغه ځکه چي ئن په کشمیري مسلمانانو باندي هندي پوځیانو دومره ظلم شروع کړي چي انسان ئي له محاسبي نه عاجز پاتي کیږي خود کشمیر دمسلمان ولس مظلومیتونه اوهغوي پرځپاتو ظلمونه یوازي دهغي

ص۲

خاطره ۲٤ حوت یا بزرگترین کارنامه وحماسه مسلمانان درشهر هرات

بقلم : عبدالرقیب «جهید»

جاي بس مسرت و افتخار است که کشورمرد خیز وشجاعت پرور ما افغانستان در دامان خاك اسلامي خود رادمردان وقهرمانانی را پرورده است که درطول تاریخ دربرابر تجاوزگران کافرولشکریان باطل با روحیه سرشار اعتقادي وایماني جنگیده اند و استکباریان وزورگویان زمان را درسهایي پر از عبرت درهمه صحنه ها داده اند .

مبارزه گرم ومسلحانه اسلاف مؤمن ونیاکان شجیع ما درمقابل انگریز و بسیج سرتاسري ملت مسلمان افغانستان علیه امپراطوري جهاني انگلیس وبه شکست وافتضاح کشانیدن غول استعماري برتانیه کبیر را از موهبت هاي غیبي نصر خداوندي است که مجاهدین سرسپرده اسلام را چون سردارمحمد ایوب خان ، غازي محمد جانخان ، غازي وزیراکبرخان و ملامشك عالم توفیق آن بخشید تا باعزم آهنین و ثبات پولادین با وصف تهي دستي و فقدان وسایل جنگي لشکر کافر انگلیس را از کشور بیرون راندند که سرنوشت ذلتبار کیوناري - برایدن و مکناتن و سایر وقایع درتاریخ ثبت است .

آري : ملت متدین ومجاهد پرور افغانستان درقرن بیستم یکبار دیگر بزرگترین شهکاریها وکارنامه هائیکه الهام گیر ازدین مبین اسلام است در تاریخ پرافتخار عظمت ها و ابهت هاي انقلاب اسلامي افغانستان براي جاودان ثبت نمودند که ازجمله قیام وروستاخیزشهریان مسلمان هرات باستان در ۲٤ حوت ۱۳۵۷ خورشیدي است جنبش مؤمنانه و ایثارگرانه مسلمانان این مرز بوم درست بعد ازبوقوع پیوستن کودتاي الحادي وکمونیستي هفت ثور بادرك وشناخت هویت اصلي مزدوران کریملین وجیره خواران کمونیزم روس ، دیگر تحمل شان به ستوه آمده و جانبازانه و متفقانه دست به یورشي زدند و درخیابانها وسراسرنقاط وحدود این ولایت شوریدند و علیه نظامیان نظام سخیف کمونیستي وملحدان خلقي وپرچمي داخل نبرد رویا روي شدند وکربلایي را باخون خود نقش کردند جوش و خروش مجاهد مردان وزنان وپیرو برناکه از اعماق قلب ونور ایمان در سراپرده شهر با نعره هاي روحپرور تکبیر طنین انداز بود طاغوتیان و ارتشیان ملحد و دهري کودتایي را سخت دراضطراب و هیجان زده و با این قیام حماسه سازخود سکوت جبري حاکم رابرهم زدند وبه رژیم دست نشانده روسي بانگ رساي آزادیخواهي و جانبازي را علناً وعملاً فهماندند که ملت مسلمان افغانستان هرگز سکوت و تسلیمي را دربرابر چکمه پوشان سرخ و ملحدین زنجیري خلق و پرچم براي یك لحظه هم قبولدار شده نمیتوانند و زور وظلم ووحشت هاي گوناگون نمیتواند جلو اراده وعزم ایماني واسلامي مسلمانان آزاده و مجاهد راسد شود .

خطه پاك وقهرمان پرور هرات این شهر کارنامه هاوحماسه ها بزرگترین علماء ، عرفا و ادبا و متصوفین اسلام را در دامان پاك خود پرورده است و به تأسي و پیروي از بزرگان و اولیاء حقاني و صمداني مردم این مرز بوم با شناخت مبادي والاي ديني و مفکوره اسلامي و عرفاني به یمن ایمان و جذبه سرشار قرباني و شهادت شعاري درین آزمون الهي حاضربه نثار بهترین فرزندان ، جوانان و صغیر وکبیر خود گردیدند که احصائیه ارقام شهداء گلگون کفن درحدود بیست وچهار هزار تخمین شده است و این رقم بیشترین وعظیمترین ارقام شهادت درتاریخ انقلاب اسلامي افغانستان درعصرمعاصر است و انگیزه این قیام درپراه انداختن یورشها وقیام هاي سایرمناطق و ولایات کشورنهایت بنیادي و سازنده بود چه خوشبختانه پیوست با این قیام ، قیام هاي همانند آن درتمام نقاط کشور اوجگیرشد ودرست یکسال بعد ازین کارنامه قهرمانان هرات ، قیام سوم حوت «۱۳۵۸» شهریان مسلمان کابل درلانه طاغوت وقلب الحاد جهیدن گرفت وزمین رابرملحدین تنگ ساختند ، شهامت وشهکاري وازخود گذري رادر اوراق تاریخ براي جاودان گذاشتند تا آنکه ازین برکت این قیام هاي مؤمنانه وجنبش هاي کفرستیز ارتش سفاك واشغالگرروس با افتضاح تمام خاك کشور مارا ترك گفتند و فرار را برقرار برگزیدند و اینك ما شاهد تحولات بس سترگ بنیادي و اسلامي درجهان زیست اشتیم امپراطور سرخ روس ازهم پاشید ، مفکوره ، ایدیالوژي وعلامت ننگین داس وچکش پرولتاریاي جهان که بشریت رابه اغوا و اسارت کشانده بود براي همیشه با جنازه گندیده کمونیزم بگورستان تاریخ رفت و روسیه کمونیست ازنقشه دنیا حذف گردید .

ازطرف دیگر آزادي کشورهاي آسیاي میانه دست آورد دیگري از حماسه آوریها و ایثارگري هاي ملت مجاهد و ارادتمند ما است که ازچنگال اهرجناور روس ومکتب استبدادي کمونیزم رهایي یافتند .

مادرحالیکه به ارواح شهداء بخون خفته وقهرمان هرات وسایر ارواح شهداء راه خدا (ج) اتحاف دعا میکنیم ازبارگاه اوتعالي مسئلت داریم تابه بازماندگان وماتمزدگان این شهداء گرامي صبر جمیل و اجر جزیل عنایت فرماید وخون قربانیان راه اسلام را ازدسایس و توطئه هاي طواغیت وجبابره درامان نگهداشته ونعم البدل آنرا به آینده درخشان وفرداي اسلامي افغانستان موهبت و ارزاني فرماید .

(آمین)

داولي داسي کیږي ؟

داحمد فهیم لیکنه

له افغانستان نه د روسي پوځونو په وتلو سره چي زمونږ دبهاتورو اوقهرمانومجاهدینو دمیړانی او سرښندنی په نتیجه کښي تیښتي ته مجبور کړای شول زمونږ دمسلمان ملت او دنړی دمسلمانانو په زړونو کي داهیله راژوندی شوه چي ډیر ژر به که خدای کول ددوی دمراد میوه پخیږي اوپه ګران او قهرمان افغانستان کی به دهیواد دیونیم ملیون شهیدانو دوینو په قیمت یو سوچه اسلامي نظام ټینګیږي .

خو له بده مرغه ددوی دی هیلی ډیر ژر دمایوسی ځپیږه په مخ وخوړه اوزیاتورکسانو ته داحساس پیداشو چی داهرڅه یو خوب اوخیال وو اودتماشوتی خبره ده چي په خپل ژوندکي به دهیواد ددنګو غرونو دپاسه دتوحید بیرغ رپاندہ وګوري داڅکر دوی ته پدی خاطر پیداشوی چی له افغانستان نه دروسي پوځونو دتیښتې اوروسرا ماتی ووروسته‌مولیدل چی دنړی په ګوټ ګوټ کی دکمونیزم په جنګ کی ګیر هیوادونو یویربل پسی خپل ځانونه لدی کرغیړني کړی څخه وویستل ذولنی یی ماتی او دآزادی اوحریت جنډی یی دخپلو هیوادونو په فضاکی په رپا رپا کړی اوله ټولو ستره پیښه لاداچی دکمونیزم دوه اویا کلنه باداری دتل لپاره ختمه اودکمونیزم سور بیرغ دکرملین دماڼۍ لپاسه راکوز او دمارکس او لنین مجسمی دځمکی پرمخ راپرېوتې کومی

دناگورنو قره باغ ستونزه او دارمنیانو یرغلگر دریځ

نوموړه کیږي چې د مسلمانو آذریانو اوعیسوي مذهبوارمنیانو ترمنځ دناگورنوقره باغ د سیمي په سرسخته جگړه روانه ده او ویل کیږي چې په دغي جگړه کښي له دوه سوو تنونه زیات جنگیالان وژل شوي اوه ارمنیانو د یوه وحشیانه برید له امله په دغي جنگ ځپلي سیمي کښي ۱۰۰۰ تنه مسلمانان شهیدان شوي دي . ددغه عمل پیم نتیجه کښي آذریان ریاریدل او له جمهور رئیس ایاز مطالیوف نه یې وغوښتل چې انتقامي عملیاتو ته دي لاس واچوي خو ایازمطالیوف دغه لشارته تسلیم نه شو اود مارچ په شپږمه نیټه یې استعفا وکړه اودهغه په ځاي یعقوب محمدوف چې ملي جبهي ته منسوب دي قدرت په لاس کښي ونیو ددي لپاره چې وکړلاي شو ددغي ځوکښتي لاملي په مختلفو ارخونو باندي ځان پوه کړو اود ارمنیانو له ناروا ادعاگانونه ځان خبر کړو لومړي د آذربایجان تاریخي پس منظرته یوه لنډه کتنه کوو اوبیا په د ناگورنو قره باغ د بحران اصلي عوامل وڅیړو .

آذربایجان د پخواني شوروي اتحاد یوبل مسلمان هیواد دي چې د ایران په شمال د قفقاز په سیمه کښي موقعیت لري . د اوسني آذربایجان په خاوره کښي د تیري هیري له دوري نه خلك اوسیدل اومسکوني وه . د میلاد څخه دمخه د اتي پیړي په وروستیوکښي مادیانو اودقبل المیلاد له نیمایي ته رایه دیخوا هخامنشیانو په دغي سیمه حکومت کاوه . کله چې د میلاد څخه مخکښي د څلورمي پیړي په لومړیو کښي اسکندر په ایران یرغل وکړ اودغه هیواد امپراطوري یې نسکوره کړه اود «آتوریات» په نامه د هغه یوه باج ورکوونکي حکمران په دغي سیمه کښي مستقل حکومت جوړ کړ ، د آذربایجان نوم دهغه تغیر له امله چې د عربي اوترکي ژبو په نتیجه کښي مینځ ته راغلي له «آتوریات» نه مشتق شوي دي .

له میلاد څخه دري پیړي وروسته ساسانیان ددغي سیمي په زیاتره برخي باندي واکمن شول او دهغوي دغه واکمني په ماوراي قفقاز باندي د اسلامي لښکرو ترحملو پوري چې داوومي میلادي پیړي په منځنیوکښي په دغي سیمه کښي پیل شوي ، دوام درلود . په دغه وخت کښي زیاترو آذربایجانیانو په فارسي ژبه خبري کولي اوکومو عربو چې هلته اوسیدنه غوره کړه په تدریج سره د سیمي په اصلي اوسیدونکو کښي جذب شول . خو مهاجرینو د یوي بلي لړۍ په راتلو سره دغي سیمي خپلي خصوصیت له لاسه ورکړ اوفرهنگي ځانگړتوب یې تغیروموند . دغه مهاجرین د ترکانو د قبیلي مغول وو چې داومي پیړي په لومړیو کښي د آذربایجان خټیځو سیمو ته راغلي وو . خود مغولو یومخیز راتگ په یوولسمه پیړي کښي دغز – سلجوق د حملو په وسیله پیل شو . ددغه تفوق په نتیجه کي ترکي ژبه په ټوله سیمه کښي په تورو ژبو غالبه شوه اود تورو ژبو د نفوذ مخه یې ونیوله .

مغولانو د دیارلسمي پیړي په لومړیو کښي په دغي سیمي یرغل وړوو . دوو امپراطوریو ، مغولو د شمال له لوري او ایلخانیانو د جنوب له لوري د آذربایجان د نیولو تکل وکړ خو هیڅ یو په دي بریالي نشول چې دوامداره برلاسي لاس ته ورووي . په ۱۳۸٦ میلادي کال کښي د ماوراء النهر حکمران تیمور جنوبي آذربایجان ترخپلي ولکي لاندي راوست اود آذربایجان په شمال کښي د دربند شروانشاهان قدرت ته ورسیدل . په ۱٤۰۵ میلادي کال کښي شرو انشاه ابراهیم د لنډي مودي لپاره د آذربایجان دواړه برخي یوځاي کړي خو لې موده وروسته بیرته سره جلا شوي . شمالي برخه د شروانشاهانو په لاس کښي باقي پاتي شوه اوجنوبي برخه د غز- ترکمنانو (لومړي د قراقو یونلو اوبیا د آق قویو نلو) تر واکمني لاندي راغله .

د آذربایجان تاریخ په دغي برخه کښي د عثماني ترکیې اود ایران د امپراطوري یوه برخه جوړوي لکه چې په ۱۵۰۲ میلادي کال کښي شاه اسماعیل صفوي د آق قویونلو مرکز ، تبریز په خپل تصرف کښي راوست خوله هغه ځایه چې صفویان داردبیل فارسي ژبي اود شیعه ملهب پیروان ؤ ، آذربایجانیان اهل سنت اوبه حنفي ملهب باندي یې عقیده درلوده اوهمدا لامل ؤ چې تبریزي یې دخپل حکومت د مرکز لپاره وټاکه . عثمانیانو څو ځلي په تبریزباندي یرغل وکړ اودغه ښاريې د ۱۵۱۵- ۱٦۰۳ میلادي کلونو په ترځ کښي ترخپلي واکمني لاندي راوست خو شاه اسماعیل له مرگ نه وروسته شاه عباس په دي بریالي شو چې په دغي سیمي باندي یوځل بیا خپله ولکه ټینګه کړي .

له آذربایجان سره دمسکو د اړیکو پس منظر

د آذربایجان اومسکو ترمنځ د سوداگري اړیکي د پنځلسمي پیړي په وروستیو کښي پیل شوي دي . باکو د یومهم مرکز په توگه د کسپین بحیري او والگا د لاري په مسیر کښي پروت ؤ . د پطرکبیر لپاره آذربایجان د منځني ختیځ د دروازي حیثیت درلود اوله همدي کبله په دي لټه کښي ؤ څو د کسپین د بحیري په څنډو کښي استحکامات جوړ کړي . د ۱۷۰۳ – ۱۷۲۲ میلادي کلونو په ترځ کښي روسي یرغلگرو پرخونو په دغي سیمه یرغل وکړ او د دربند اوباکو بي اشغال کړل . د روسانو ددي اقدام په مقابل کښي عثمانیانو سمدلاسه د قفقاز د پاتي برخي (له هغي جملي نه ، تفلیس ، ایروان ، نخجوان اوگنجي) په نیولو سره دروسانو دغه عمل تلافي کړ . ایران په دغه وخت کښي د افغانانو لخوا اداره کیده . په ۱۷۲٤ کښي د قسطنطنیې قرارداد مینځ ته راغي ددغه قرارداد په اساس په گرجستان ، شروان او آذربایجان باندي د عثمانیانو واکمني تثبیت شوه اوروسانوته یې هم دا اجازه ورکړه چې د کسپین بحیري د سیمي کنترول په خپل لاس کښي واخلي . څرکله چې په ۱۷۳۵ میلادي کال کښي نادرشاه په ایران کښي قدرت ترلاسه کړ نوبه دي بریالي شو چې د کسپین د بحیري سیمه د روسانو له تصرف نه خلاصه کړي او آذربایجان یوځل بیا د ایراني حاکمانو ترواکمني لاندي راولي . وروسته له هغه چې نادر افشار دخپلو درباري صاحب منصبانو لخوا په ۱۷٤۷ میلادي کال کښي د خبوشان په فتح آباد کښي ووژل شو نو په آذر بایجان باندي د مرکز نظارت کمزوري شو اوقدرت سیمه ایزو خانانوته په لاس ورغي . په باکو ، گنجه ، قره باغ ، کوبان ، نخجوان ، شاماخي او طالش کښي جلا جلا خانانو حکومت کاؤ .

احمدشاه ابدالي لوئیو پښتانه چې له نادر افشار سره ملگري ؤ دهغه له مړیني وروسته دهرات له لاري له مشهد قندهارته راستانه شول اوهلته یې د اوسني افغانستان تهډ کیښوده . په خراسان کښي د نادرافشار کوچني زوي شاهرخ مشهد خپل پایتخت وټاکه اود شاهي قزلباشي کورني ته یې دوام ورکړ . له بلي خوا ما زندران چې د نادرشاه د حکومت یوه برخه وه د یوه قاجاري خان «محمد حسن» په لاس ورغي اوپه آذربایجان کښي د احمدشاه ابدالي په شان یوبل پښتون آزاد خان یو مستقل دولت جوړکړ څرنگه چې قاجاریانو دغه دولت ته په ښه سترگه نه کتل نو په مقابل کښي یې راپاڅیدل او پښتانه یې چې د کسپین بحیري په غاړه کښي ځاي په ځاي شوي ؤ د آزاد خان د دولت په سقوط سره وتلرته اړکړل .

د اتلسمي پیړي په پاي کښي آقامحمدخان هڅه وکړه چې آذربایجان یوځل بیا د ایران ترولکي لاندي راولي ، خودهغه ددي کوشش په ځواب کښي ، د تزاري امپراطوري دویم تزار ، دربند ، باکو ، گنجه ، گوبان اوشاماخي اشغال کړل . دغه کشمکش څوکاله دوام پیداکړ چې دهغه په ترځ کښي روسانو دوخت په تیریدو سره په قفقاز کښي خپل موقعیت ټینگاوه . تر ۱۸۰۵ میلادي کال پوري ددغي سیمي یوشمیر محلي حکومتونه لکه قره باغ اوشیروان دروسانو ترولکي لاندي راغلي ؤ .

د روسیې اوایران جنگ اودآذربایجان برخلیك

کوم جنگ چې په ۱۸۱۲ میلادي کال کښي د ایران اوروسیې ترمینځ پیښ شو ، په نیول شویو ځارو باندي یې دروسانو حاکمیت تثبیت کړ ، د ترکمانچاي قرارداد چې په ۱۸۲۸ میلادي کال کښي د ایران او روسیې ترمینځ منعقد شو په نخجوان او ایروان باندي یې دروسانو مالکیت په رسمیت وپیژاند ، او همدارنګه د وارس ، سیند یې د دوحکومتونو ترمینځ پوله وټاکله . په دي ترتیب آذربایجان لکه چې ۲۰۰ کاله ورواندي د مغولو تر واکمني لاندي ؤ اوس د دوشمالي اوجنوبي امپراطوریو ترمینځ وویشل شو . دخانانو سیمه ایز کوچني حکومتونه یوبه بل پسي له مینځه ولاړل اوسیمه د مستقیم پوځي نظارت لاندي راغله .

د نولسمي پیړي په دویمه نیمایي کښي په روسي آذربایجان کښي دفکري فعالیتونو لپاره علاقه موجوده وه . تـــــعلیمي اصلاح غوښتونکو ، محققانو اولیکوالانو غوښتنه کوله چې په اروپایي کلتور ، سره دي ترکي – آذري فرهنگ ته پراختیا ورکړي اوله خپل ځانه دي داسي یوفرهنگ مینځ ته راوړي چې ټري ټري سره تطابق ولري اولاتین ته دي د الفبا بدلول د بحث ور موضوع وگرزي .

په دي لړکښي نوي بشپړتیا جوړشول اویه ۱۸۷۵ میلادي کال کښي دحسن ملك زاده زردابي (ملکوف) په وسیله د اکینچي (بزگر) ترعنوان لاندي په آذري ژبه لومړني ورځپاڼه خپره شوه .

له بلي خوا میرزا فتحعلي آخوندزاده (آخوندوف) د نویو آذربایجاني ادبیاتو بنسټ کیښود . په یوشمیر بنارونو کښي ادبي ټولني جوړي شوي د نویو ادبي دولونو په ترویج سره یې نوي استعدادونه وروزل .

ادبي پرمختگ سره خوا په خواصنعت هم پراختیا وموندله . د نولسمي پیړي په پاي کښي باکو د روسیې د امپراطوري له ډیرو مهمو صنعتي مرکزونو څخه ؤ اوه یوي مودي لپاره په نړۍ کښي د تیلو ډیرستر تولیدوونکي هیواد ؤ . په ۱۸۸۳ میلادي کال کښي دقفقاز د ریل گاډي پټلي ایجادول اودهغي په وسیله باکو له توري بحیري او روسیې سره ترل د باکو د تیلو د شیکي دپراختیا اصلي عامل ؤ .

لومړي نړیوال جنگ اود انگلیسانو لخوا دآذربایجان نیول کیدل

د ۱۹۱۸ میلادي کال په اوړي کښي انگلیسانو باکو په خپله ولکه کښي راوست خود انگلیسانو دغي واکوالي زیات دوام پیدانکړ اود «نوري پاشا» د تر قوماندي لاندي آلماني اوعثماني قواؤ انگلیسان وشړل اود سپتمبر په میاشت کښي یې دغه ښار په خپل تصرف کښي راوست .

